# د رايې ورکولو لارښود



**د ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو ټاکنې**

**افغانستان ۱۳۸٤**

## د ښه راغلاست لیک

د ټاکنو درنو همکارانو

موږ تاسو ته د افغانستان د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرګې او ولایتي شورا ټاکنو کې د کار کولو لپاره ښه راغلاست وایو. موږ په ځانګړي ډول خوښ یو چې تاسو به د ۱۳۸٤ کال د وږي د ۲۷مي نېټې د ټاکنو په تنظیمولو کې برخه اخلئ.

د ټاکنو د کارکوونکوو په توګه ستاسو دنده ډېره مهمه ده، ځکه چې تاسو به له نړیوالو معیارونو سره د ټاکنو د برابروالي د باوري کولو مسؤولیت په غاړه ولرئ چې په پایله کې به یې یوه د اعتبار وړ، منل شوې، رڼه او جامع پروسه را منځته شي. ستاسو هڅې به د ولسواکو ادارو په جوړولو کې چې افغانانو ته یې ګټه رسېږي، ستر رول ولوبوي. دا به ستاسو دنده وي ترڅو باوري کړئ چې ټول وړ رایه ورکوونکي وکړای شي خپله رایه واچوي او د ټاکنو پایله په سمه توګه د افغان وګړو هیلې منعکسې کړي. د ډېرو افغانانو لپاره به تاسو د دې ټاکنو ښکارندویه یاست او موږ د دې عملیاتو د لوړو معیارونو د ساتلو لپاره په تاسو حساب کوو.

د دې لارښو د موخه دا ده چې تاسو سره د رایې ورکولوپه ټولو ضروري اړخونو باندې پوهېدو کې مرسته وکړي او تاسو د دې وړ کړي چې ستونزې حل کړئ او هر هغې پوښتنې ته ځواب ورکړئ چې د دې بهیر په اوږدو کې راپورته کېږي.

موږ د زړه له کومې په دې ټاکنو کې ستاسو شتون ته ښه راغلاست وایو او د ټاکنو د ټول بهیر ځواکمن پرمختګ کې د مرستې کولو او د لوړو نړیوالو معیارونو سره د خپل کار د برابرۍ د باوري کولو لپاره در څخه مننه کوو.

**پیټر اربن**
**د ټاکنو اجرائیوي آمر**
**د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر دارالانشاء**

# د محتویاتو جدول

<u>لومړۍ برخه – عمومي معلومات</u>


١. د ټاکنو د کارکوونکو لپاره کړندود.................................................................٤
٢. د ټاکنو په هکله.................................................................................٥
٣. د رایې ورکولو مرکزونه او ځایونه................................................................ ٥
٤. د رایې ورکولو کارکوونکي.........................................................................٧
٥. هغه کسان چې د رایې ورکولو ځای ته د ننوتو اجازه لري.................................... ٩
٦. د رایې ورکولو د ځای اداره.......................................................................١٣
٧. د رایې ورکولو توکي.............................................................................. ١٤
٨. د رایه اچونې د پیل ځخه وړاندې................................................................ ١٦


**<u>دویمه برخه – د رایې ورکولو کړنلارې</u>**


٩. د رایې ورکولو اووه پړاوونه..................................................................... ٢١
١٠. د رایو پانو د څو صندوقونو ساتنه او څارنه.................................................. ٢٩
١١. د رایې اچونې پای ته رسول.................................................................... ٢٩
١٢. د رایې اچونې د پای ته رسېدو ځخه وروسته.................................................. ٣٠
١٣. اعتراضونه........................................................................................ ٣٥
١٤. شکایتونه........................................................................................ ٣٦


**<u>دریمه برخه – ملونه</u>**

# ۱. د ټاکنو د کارکوونکو لپاره کړندود

دافغانستان اسلامي جمهوريت
دانتخاباتو دتنظيم ګډ دفتر

جمهوری اسلامی افغانستان
دفتر مشترک تنظیم انتخابات

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Joint Electoral Management Body**
**JEMB**

---

## د ټاکنو د کارکوونکو لپاره کړندود

دا کړندو د د ټاکنو د قانون په هکله د ولسمشر له فرمان څخه سرچينه اخلي. په دې کړندو د کې د تشريح شوو اخلاقي او حقوقي معيارونو موخه د کانديدانو د نومونې، نوم ليکنې، سياسي کمپاين، رايې ورکولو او رايو شمېرنې په ګډون، له پيله تر پايه د ټاکنو په ټول بهير کې د ټاکنو د کارکوونکو د کړنو لارښوونه ده. د ټاکنو ټول کارکوونکي بايد دې معيارونو ته غاړه کېږدي او په ښه نيت او سالم قضاوت سره يې عملي کړي. هېله ده خبر اوسئ چې د انتخاباتي شکايتونو کمېسيون کولای شي د ټاکنو کارکوونکي د کړندو د څخه د سرغړونې له امله مجازات کړي.

د ټاکنو کارکوونکي:

۱. د اساسي قانون، د ټاکنو ټول قوانين، او د افغانستان نور ټول قوانين او د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر او د دغه دفتر د دارالانشاء له خوا د صادرشوو دستورالعملونو، لارښوونو او کړنلارو رعايت کوي او په بې طرفۍ، بې پرې او پرته له سياسي تړاو څخه يې عملي کوي.
۲. د خپل توان تر اخري اندازې، د ټاکنو د بهير په ټولو پړاوونو کې د ټولو کسانو د بيان او د نظر وړاندې کولو، د ټولنو جوړولو، غونډو جوړولو او تګ راتګ د ازادۍ بنسټيز حقونه باوري کوي.
۳. له رايه ورکوونکو، کانديدانو، د خبري رسنيو يا مطبوعاتو د غړيو او نورو ټولو کسانو سره د درناوې، بې پرې توب او سياسي ناپېيلتوب په شکل چلند کوي.
٤. په کاليو يا عمل، کړو وړو يا خبرو کې د کوم سياسي ګوند يا کانديد ملاتړ نه څرګندوي.
٥. له کتونکو، استازيو، رايه ورکوونکو، کانديدانو او د مطبوعاتو او خبري رسنيو د غړو سره د قانون په چوکاټ کې د همکاري له لارې په خپلو ټولو پرېکړو او دندو کې له ريښتينولۍ او روڼتيا څخه کار اخلي.
٦. د خپل مقام څخه شخصي ګټه نه اخلي او نه يې د اخيستلو هڅه کوي، او د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر او د ګډ دفتر د دارالانشاء پرته له هيڅا څخه سوغاتونه، پيسې او نور امتيازات نه اخلي؛
٧. خپلې ټولې هغه ګټې د انتخاباتو د تنظيم ګډ دفتر ته څرګند وي چې په دغه دفتر کې د دوی له دندو سره تړلې او په تضاد کې وي او بايد له داسې لارې څخه د دغو تضادونو د هوارې لپاره ټول ګامونه پورته کړي چې د دوی له دندو سره سمون ولري.
٨. د رايې پاڼې د پټوالي (سريتوب) درناوی کوي؛
٩. د هر کس محرميت او محرم معلومات خوندي ساتي؛
۱۰. له ټولو کسانو سره د ټولنيزې منشاء او شخصی مقام په پام کې نيولو پرته او جنس، مذهب، عقيدې، عمر او معيوبيت ته په پام سره باعزته او احترامانه چلند کوي؛
۱۱. د دندو له پيل کولو څخه وړاندې په ټولو روزنيزو غونډو کې برخه اخلي او له ټولو هغو اړوندو کړنلارو سره ځان اشنا کوي چې د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر له خوا ورکول کېږي.

ما پورتنی کړندو ولوست، پرې پوهېږم او غاړه ورته ږدم.

په ............................................................. د ۱۳۸٤ کال د............................................................................نېټه

د .....................................................له خوا لاسليک شو.....................................................................
د ټاکنو د کارکوونکي نوم                                                   د ټاکنو د کارکوونکي لاسليک

## ۲. د ټاکنو په هکله

د ۱۳۸٤ کال د وږي په میاشت کې به ټول افغانستان کې اوسېدونکو افغانانو ته موقع ورکړای شي، چې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې رایه ورکړي. د ۱۳۸۳ کال د ولسمشرۍ له ټاکنو وروسته په افغانستان کې د مستقیمو ټاکنو د ترسره کولو له لارې د یو بشپړ استازي حکومت او په ملي او ولایتي کچو د حکومتي ارګانونو رامنځته کول ، هغه ډول چې د بُن په تړون کې یې غوښتنه شوې، یو مهم ګام دی.

د دواړه ډول ټاکنو، ټاکنیزې حوزې د ولایت په کچه دي، چې د هر ولایت د څوکیو شمېر د اړوند ولایت د نفوسو پر تناسب ټاکل شوی دی. له دې سره سره، ښځو ته ٦۸ څوکۍ په ولسي جرګه او ۱۲٤ څوکۍ په ولایتي شوراګانو کې بېلې شوې دي. همدارنګه د ولسي جرګې له څوکیو څخه ۱۰ څوکۍ د کوچیانو لپاره بېلې شوي دي. کوچیان یوازې د ولسي جرګې په ټاکنو کې رایه ورکولای شي.

د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو استازي به دیو ډول انتخاباتي سیسټم، چې د یوې نه لېږدېدونکې رایې د سیسټم په نامه یادېږي، وټاکل شي. په دې سیسټم کې رایه ورکوونکي په رایه پاڼه کې یو کاندید انتخابوي. هغه کاندیدان چې تر ټولو ډېرې رایې تر لاسه کوي، په اړونده ټاکنیزه حوزه کې موجو دې څوکۍ ډکوي. څرنګه چې په حقیقت کې کاندیدان په انفرادي ډول سیالي کوي، نو دا سیسټم د ګوندونو پر بنسټ ولاړ سیسټم نه دی. په هر حال ګوندونه به وهڅول شي چې د خپلو کاندیدانو ملاتړ وکړي، خو په رایه پاڼه کې به د ګوند سره تړاو نه په ګوته کېږي.

ولسي جرګه د ملي شورا یو مجلس او د افغانستان د د ولت مقننه څانګه ده. ولسي جرګې ته استازي نیغ په نېغه د افغانستان د خلکو له خوا ټاکل کېږي. د بریالیو ټاکنو څخه به وروسته د مشرانو جرګه رامنځ ته شي چې غړي یې په غیر مستقیمه ډول انتخاب یا انتصابېږي.

د مستقیمو ټاکنو له لارې د ولایتي شوراګانو جوړول د محلي حکومت د چوکاټ د رامنځته کولو لپاره یو مهم حرکت دی. د افغانستان د حکومتي چوکاټ د جوړولو په هکله د بُن د تړون د اهدافو د پوره کولو لپاره وروستی ګام د مستقیمو ټاکنو له لارې د ولسوالیو د شوراګانو ټاکل دی. د ولسوالیو د شوراګانو ټاکنې ځنډول شوې او په ۲۰۰۵م کال کې به نه تر سره کېږي، د ځنډولو اساسي دلیل یې په افغانستان کې د ولسوالیو د شمېر او پولو په هکله د ګډ نظر نشتوالی دی. ملي شورا به پرېکړه وکړي چې د ولسوالیو ټاکنې به کله ترسره شي.

### د رایې ورکولو شرایط

وړ رایه ورکوونکی د رایې ورکولوپه ورځ د رایې ورکولو لپاره باید:

- په افغانستان کې د رایه ورکوونکي په توګه راجستر شوی وي؛
- د نوم لیکنې د اعتبار وړ کارت چې په افغانستان کې یې ترلاسه کړی وي، وړاندې کړي؛
- په خپله په هغه ولایت کې رایه ورکړي چې د نوم لیکنې په کارت کې یې ښو دل شوی وي؛

- کوچیان چې د ولسي جرګې د کوچیانو په ټاکنو کې رایه وکوي، کولای په هر ولایت کې رایه ورکړي، خو د کوچي په توګه باید راجستر شوی وي.

د نوم لیکنې په بهیر کې هر بریالي راجستر شوی کس د نوم لیکنې کارت تر لاسه کوي چې ۸ یا ۹ عددیزه شمېره لري. د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې کارت د کارت د صدور کال (۲۰۰۳-۲۰۰٤ یا ۲۰۰۵)، د رایه ورکوونکي شخصي معلومات او عکس لري. د ښځو لپاره حتمي نه ده چې د نوم لیکنې په کارت کې عکس ولګوي. د عکس پر ځای به یې ولیکل شي چې "د نوم لیکنې غوښتونکي له عکس څخه ډډه کوي".

### د رایې ورکولوساعتونه

د رایې ورکولوځایونه به د ۱۳۸٤ کال د وږي په ۲۷مه نېټه د سهار له ۰۷:۰۰ بجو څخه د ماذدیګر تر ۰٤:۰۰ بجو پورې پرانیستي وي. د رایې ورکولو د چارو کارکوونکي باید د اړینو تیاریو د ترسره کولو لپاره د رایې ورکولومرکز او ځای ته د سهار له ۰٦:۰۰ بجو څخه وړاندې ځانونه ورسوي.

## ۳. د رایې ورکولومرکزونه او ځایونه

- د رایې ورکولومرکز د رایې ورکولو د یو یا څو ځایونو مجموعه ده. داکېدای شي یوه و دانۍ، د و دانۍ یوه برخه یا په تش میدان کې وي.

- د رایې ورکولوځای د رایې ورکولو د مرکز د ننه ټاکلی ځای دی چېرې چې رایه اچول ترسره کېږي. دا کېدای شي یوه کوټه یا ټاکل شوې برخه وي.

- د نارینه وو او ښځو لپاره به جلا جلا ځایونه او د کوچیانو ټاکنیزې حوزې لپاره به کوچیانو د رایې ورکولو ځایونه جوړ شي.
- د رایې ورکولو هر ځای به ۹ عددیز کوډ ولري چې د ولایت، ولسوالی، د رایې ورکولو د مرکز او ځای شمېرې په ګوته کوي.

د رایې ورکولو د ځای کوډ به د رایې ورکولو د ځای د توکو د بکس، درایې ورکولو د توکو د بکس، د رایې ورکولو د ځای د ژورنال او فورمو په نښه کولو لپاره کارول کېږي.

| □□ / | □□ / | □□□ / | □□ |
|---|---|---|---|
| د ولایت کوډ | د ولسولۍ کوډ | د رایې ورکولو د مرکز کوډ | د رایې ورکولو د ځای کوډ |

## ٤. د رايي ورکولوکارکوونکي

د رايي ورکولوچاري د رايه اچوني د کارکوونکو د ډلو له خوا پر مخ وړل کيږي. د رايه اچوني کارکوونکي هغه ډول چې لاندي ښو دل شوي د رايه اچوني د چارو د ترسره کولو لپاره بېلابېلي دندې په غاړه اخلي. د رايي ورکولو د مرکز مدير به د رايي ورکولوځايونه څاري او د اړتيا سره سم به ورسره مرسته کوي، په ګډون د:

- ✓ تخنيکي پوښتنو ته ځواب ورکول؛
- ✓ د توکو وررسول او بېرته ورڅخه راټولول؛
- ✓ د رايي ورکولو د ځای دننه د بهير څارل؛
- ✓ د هر راپورته کېدونکي امنيتي يا بېړني حالت اداره کول.

### د مراتبو لړۍ

- ← د رايي ورکولو د کارکوونکو هره ډله به د رايي ورکولو د ځای د رئيس له خوا څارل کيږي.
- ← د رايي ورکولو د ځای رئيس به د رايي ورکولو د مرکز مدير ته راپور ورکوي.
- ← د رايي ورکولو د ځای رئيس به د رايه اچوني کارکوونکو ته د توکو په ګډون د ځای د فعاليت او وظايفو اړوند مسايلو په هکه تازه معلومات ورکوي.

### د رايه اچوني ټول کارکوونکي بايد:

- ✓ د ټاکنو د کارکوونکو لپاره د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر کړندود سره سم ټول وخت بې پرې سلوک وکړي. د ټاکنو د منصفانه او ازاد بهير لپاره بې پرې سلوک ډېر مهم دی.
- ✓ باوري کړي چې کړنلارې په سمه توګه تعقيبيږي او وړاندې کېدونکي معلومات سم او دقيق دي.
- ✓ تل د کار په مهال خپل رسمي نښانونه په غاړه کې واچوي. د رايي ورکولو د مرکز مدير او د رايي ورکولو د ځای د ليکي کنترولوونکی بايد د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء اسماني واسکټ (سدری) واغونځي.
- ✓ د رايي ورکولوځای ته د ځای د برابرولو لپاره د سهار د ٠٦:٠٠ بجو څخه وړاندې ځان ورسوي او د وتلو څخه وړاندې د ورځی د پای ټول کارونه سرته ورسوي او اړوند شيان وتړي.
- ✓ د ټولو حساسو موادو خوندي ساتنه باوري کړي او د معلوماتو د ساتنې او د توکو د زيرمه کولو کړنلارې په سمه توګه رعايت کړي.
- ✓ په ډير درناوي او پاملرني سره د رايه ورکوونکو خدمت وکړي.
- ✓ دې ته تيار وي چې د رئيس له خوا هره بله ورسپارل کېدونکي دنده په غاړه واخلي.

### د رايي اچوني د چارو ډله

د کارکوونکو يوه پنځه کسيزه ډله به د رايي ورکولو په هر ځای کې د رايي ورکولو کارونه پر مخ وړي:

- ❑ رئيس؛
- ❑ د ليکي کنترولوونکی؛
- ❑ د هويت پېژندني او ګوتي رنګولو مامور؛
- ❑ د رايو پاڼو ويشونکی؛
- ❑ د رايو پاڼو د صندوق کنترولوونکی (ساتونکی).

### د رئيس دندې:

رئيس د رايي ورکولو د ځای د کار او د ځای د ننه د فعاليتونو د څارني مسؤوليت په غاړه لري.

رئيس:

١. د رايي ورکولو د ځای دننه د نظم ساتني عمومي مسؤوليت په غاړه اخلي؛
٢. د رايي ورکولو د کارکوونکو د ډلي د کار څارنه کوي؛
٣. د ټيم له خوا د رايي ورکولو د کړنلارو او د مرکز د مدير له خو د کړنلارو اړوند لارښوونو رعايتول باوري کوي؛
٤. ځان ډاډه کوي چې ټول کارکوونکي د پېژندني خپل رسمي نښانونه غاړو کې اچوي.
٥. د رايي ورکولوځای ته د ورکړای شوو رايو پاڼو د حساب ساتلو مسؤوليت په غاړه اخلي او د رايي ورکولو د ځای ټولي فورمې په سمه توګه ډکوي؛
٦. په ټاکلي وخت کې د رايي ورکولو د ځای د پرانيستلو او تړلو مسؤوليت په غاړه اخلي او ځان ډاډه کوي چې ټولي تياری او د ځای د تړلو کارونه په سمه توګه بشپړيږي.
٧. د کتونکو، استازو، خبري رسنيو او خاصو ميلمنو ارام تګ راتګ باوري کوي څو له ګڼي ګوڼي څخه مخنيوی وشي.

۸. د کتونکو، استازو، خبریالانو او ځانګړیو میلمنو شتوالی څارې، د هغوی اندېښنو ته غوږ نیسي او کله چې امکان ولري مسایل حل کوي.
۹. د اعتراض لاندې رایه ورکوونکو سره د مسایلو د حل لپار د اعتراض په هکله مرکې کوي.
۱۰. ځان ډاډه کوي چې د رایې ورکولوځای د رایې ورکولو د کارونو د پر مخ بېولو لپاره اړین توکي لري او که اضافي لوازمو ته اړتیا وي، د مرکز مدیر خبروي؛
۱۱. ټول توکي خوندي ساتي او د رایې اچونې د پای ته رسېدو وروسته د حساسو توکو د ترلو کړنلارې رعایت کوي.
۱۲. د رایې ورکولو د ځای په ژورنال کې ټولې هغه پېښې او حوادث لیکي چې د رایې ورکولو د ځای په فعالیتونو باندې اغېزه لري او په مناسبه توګه د مرکز د مدیر پام واړوي.
۱۳. د مرکز مدیر ته د رایې ورکولو د ځای د پرانیستلو او تړلو د وختونو او ارقامو راپور ورکوي.

## د لیکې د کنټرولوونکي دندې

۱. رایه ورکوونکي د رایې ورکولو د ځای د باندې په منظم کتار کې ساتي.
۲. ډاډ ترلاسه کوي چې رایه ورکوونکو سره د نوم لیکنې کارتونه شته او که چېرې هېر شوی یې وي، ورته وایي چې لاړ شي او را یې وړي؛
۳. د هر رایه ورکوونکي ګوته د رنګ لپاره ګوري او د نوم لیکنې کارت یې ګوري چې ښکته کیڼ ګوټ یې سوری شوی او که نه تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې هر هغه څوک چې پخوا یې رایه ورکړې د رایې ورکولوځای ته د ننه لاړ نشي ( پرته له هغو کسانو چې د معیوبو رایه ورکوونکو سره مرسته کوي)؛
٤. د اړتیا په وخت کې، د زړو، امیندوارو او معیوبو رایه ورکوونکو سره مرسته کوي؛
٥. ګوري چې کتونکي، استازي او ځانګړي میلمانه نښانونه او عکس لرونکي تاییدوونکي پېژندپاڼې لري که نه؛
٦. د مازدیګر په ٤:۰۰ بجو د کتار پای په نښه کوي.

## د هویت پیژندني او ګوتې رنګولو مامور دندې

۱. د رایه ورکوونکي د نوم لیکنې په کارت کې د ولایت نوم او کوډ ګوري تر څو د دې پخلی وکړی چې رایه ورکوونکی په سم ولایت کې دی؛
۲. د نوم لیکنې کارت ګوري تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې عکس د همدې کس دی او که نه؛
۳. د رایه ورکوونکي ګوتې د رنګ لپاره ګوري او که د ثبت شوي کس ګوته مخکې رنګ شوې وي رئیس ترې خبروي.
٤. د راجستر شوي کس د شهادت ښۍ ګوته پاکوي او په رنګ یې په نښه کوي؛
٥. د رایه ورکوونکو په لست کې د رایه ورکوونکي د نوم لیکنې د کارت شمېره ثبتوي؛
٦. د رایه ورکوونکي د نوم لیکنې د کارت ښکته کیڼ ګوټ سوری کوي.

## د رایو پاڼو د وېشونکي دندې

۱. ځان ډاډه کوي چې د رایه ورکوونکي ګوته رنګ شوې ده او د رایه ورکوونکي د نوم لیکنې کارت سوری شوی دی؛
۲. د رایو پاڼو له بنډل څخه د سوری سوری برخې څخه رایه پاڼه بېلوي؛
۳. رایه ورکوونکي ته ښیي چې رایه پاڼه څنګه په نښه کړي؛
٤. رایه ورکوونکي ته لارښوونه کوي چې څنګه د رایو پاڼو په سمو صندوقونو کې رایې پاڼې واچوي؛
٥. د هرې ټاکنې لپاره رایه پاڼه د مخه غبرګوي؛
٦. د هرې رایې پاڼې پرشا ټاپه وهي؛
۷. رایه ورکوونکي ته د هرې ټاکنې لپاره یوه رایه پاڼه ورکوي. (یادونه: راجسټرشوو کوچیانو ته به یوازې د کوچیانو د ولسي جرګې رایه پاڼه ورکول کېږي)؛
۸. د توکو د زیرمه کولو د کړنلارو سره سم د ضایع شوو او ایسته غورځول شوو (بېکاره شوو) رایو پاڼو د کڅوړو ساتنه کوي.

### د رایه پاڼو د صندوق د کنټرولوونکي دندې

١. د رایه اچوني په اوږدو کې د رایو پاڼو د صندوق د ساتلو مسؤولیت په غاړه لري؛
٢. د دې پخلی کوي چې رایې پاڼې د رایو پاڼو په تصدیق کوونکي ټاپه باندې مهر شوې دي؛
٣. د دې پخلی کوي چې رایه ورکوونکی د هرې ټاکنې لپاره له یوې څخه زیاتې رایې پاڼې نلري (یادونه: د کوچیانو د ټاکنیزې حوزې د رایه ورکوونکو لپاره یوازې یوه د ولسي جرګې د کوچیانو رایه پاڼه ده)؛
٤. رایه ورکوونکي ته لارښوونه کوي چې خپله رایه پاڼه په سم صندوق کې واچوي؛
٥. رایه ورکوونکي ته لارښوونه کوي چې د رایې پاڼې/رایو پاڼو د اچونې څخه وروسته د رایې ورکولو له ځایه ووځي.

### د رایې ورکولو د مرکز د مدیر دندې

١. د رایې ورکولو د مرکز د اداري کارکوونکو څارنه کوي.
٢. د رایې ورکولوپه ځایونو کې د فعالیتونو څارنه کوي.
٣. د رایې ورکولو د ځای رئیس ته توکي رسوي.
٤. د دې پخلی کوي چې د ټړلو (راغونډولو) کړنلارې د رایې ورکولوپه پای کې پلې کېږي.
٥. د دې پخلی کوي چې د رایې ورکولوفورمې په سم ډول د رایې ورکولوپه پای کې بشپړې شوې دي.
٦. د رایې ورکولوپه پای کې د رایو شمېرنې مرکز ته د رایې ورکولو د ځای څخه د توکو د لېږدونې ساتنه کوي.
٧. د اړتیا سره سم بیړنیو حالاتو ته ځواب وایې.
٨. تخنیکي پوښتنو ته ځواب وایي.

### د رایې ورکولو د ځای په فعالیتونو کې نور ښکیل کسان

د مرکزونو مدیران به د اړتیا سره سم د رایې ورکولو له ټیمونو سره مرسته کوي. په دې کې په ښه توګه د رایې ورکولو د بهیر د پرمخ تللو لپاره د رایې ورکولوپه ځایونو کې تخنیکي پوښتنو ته ځواب ویل او د فعالیتونو څارل شامل دي.

امنیتي چارواکي به هر وخت د مرکز د باندې حاضر وي تر څو د رایې ورکولوخوندي چاپېریال باوري کړي.

## ٥. هغه کسان چې د رایې ورکولو ځای ته د ننوتلو اجازه لري

### د ننوتو اجازه لرونکي کسان

د رایه اچوني د کارکوونکو، د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر د دارالانشاء کارکوونکو، رایه ورکوونکو، معیوبو رایه ورکوونکو سره د مرستندویو کسانو سر بیره، لاندې کسان اجازه لري چې د رایې ورکولوپه ځای کې حاضر وي او د رایې ورکولو فعالیتونو وګوري. د رایې ورکولوپه ځای کې ټول کسان باید خپل رسمي نښان او عکس لرونکي تاییدوونکي پېژند پاڼې ښکاره له ځانوسره ولري. یوازې ښځې د رایې ورکولو ښځینه ځایونو ته ورننوتلی شي.

- د UNAMA, UNOPS او UNDP د ټاکنو کارکوونکي
- باورلیک لرونکي استازي
- باورلیک لرونکي کورني کتونکي
- باورلیک لرونکي نړیوال کتونکي
- د خبري رسنیو باورلیک لرونکي کارکوونکي
- باورلیک لرونکي ځانګړي میلمانه
- د نړیوالو کتونکو، خبري رسنیو او ځانګړو میلمنو ژباړونکي
- امنیتي چارواکي (یوازې په هغه وخت کې چې د امنیت د راوستو لپاره راوغوښتل شي)

یادونه: هغه کسان چې د معیوبو رایه ورکوونکو سره مرسته کوي، اړتیا نلري چې خپله عکس لرونکي تائیدوونکي پېژندپاڼه ښکاره کړي.

## د کتونکو او استازو رول

د ټاکنو کتونکي او استازي د ټاکنو په بهیر کې د حساب ورکونې رامنځ ته کېدلو کې مهم رول لري. کتونکي د باورلیک لرونکو بې پرې کورنیو او نړیوالو سازمانونو غړي دي. استازي د سیاسي ګوندونو غړي یا د خپلواکو کاندیدانو نماینده ګان دي.

کتونکي او استازي اجازه لري چې :

- د ټاکنو په ورځ د پرانېستلو له وخت څخه د رایي ورکولوپه ځای کې وي او د رایي ورکولو د بهیر ټول پړاوونه د رایو پاڼو د صندوقونو له مهر کولو څخه نیولې د فعالیتونو تر بندیدو پورې وڅاري، په دې شرط چې د رایو محرمیت په خطر کې وا نه چوي.
- د رایي ورکولو د فعالیتونو څارنه وکړي، په دې شرط چې دوی د رایه ورکوونکو د مالوماتو محرمیت په خطر کې وا نه چوي.
- د رایي ورکولوپه ځای کې شا او خوا وګرځي، په دې شرط چې د رایي ورکولوپه بهیر یا در ایي اچوني د کارکوونکو په کار کې لاس وهنه ونکړي او خنډ یې ونه ګرځي.
- د رایي ورکولو د ځای د فورمو بشپړیدل وڅاري او د هغو مالوماتو څخه ځانته کاپي واخلي چې د رایي ورکولو د ځای په فورمو کې ثبت شوي.
- د لېږدوني لپاره د توکو د ساتني څارنه وکړي
- د رئیس سره خپله اندېښنه راپورته کړي او د رایي ورکولو د ژورنال په نوي مخ (صفحه) کې یې یاداشت کړي.
- د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون ته لیکلی شکایت وړاندې کړي.

کتونکي او استازي اجازه نلري چې:

- د رایي ورکولو د کارکوونکو په دندو کې لاس وهنه وکړي یا یې خنډ شي.
- د رایه ورکوونکو دنوم لیکنې دکارت پرلپسې ګڼه یا داسې نور مالومات کاپي کړي چې د رایه ورکوونکو د محرمیت په وړاندې تیری وي.
- د رایي ورکولوپه ځای کې د رایي ورکولوتوکو سره لاس ووهي.
- رایه ورکوونکي ته د رایي پاڼې د نښه کولو په وخت کې وګوري.
- د رایي ورکولوپه ځای کې د رایه ورکوونکو یا له هغو کسانو سره چې د رایه ورکوونکو سره مرسته کوي په مستقیم ډول خبرې وکړي.
- چې په هره طریقه وي د ټاکنو کاندیدانو لپاره کمپاین وکړي. په دې کې د هرې ټاکنې دکاندید یا د سیاسي ګوند د سیمبول ښو دل یا د رایي ورکولومرکز یا ځای ته دکمپاین د مالوماتو راوړل شامل دي.

<u>سربیره پر دې، استازي ددې حق لري چې د یو کس د رایي ورکولوپه حق باندې اعتراض وکړي.</u>

<u>کتونکي د عتراض کولو حق نلري.</u>

### ***اندېښنو ته ځواب ویل:***

کتونکي او استازي د رئیس سره هر ډول اندېښنه راپورته کولی شي. هر ډول اندېښني باید د رایي ورکولوپه ژورنال کې ثبت شي. چې کله امکان ولري، رئیس به دغو اندېښنو ته د حل لار پیدا کوي. سربیره پردې، کتونکي، استازي او هر هغه څوک چې د ټاکنو په پروسه کې لېوالتیا ولري کولی شي د انتخاباتي شکایتونو کمېسیون ته شکایت وړاندې کړي، که چېرې د دوی په اند د ټاکنو پروسې په سمه توګه پرمخ نه ځي.

د رایي ورکولوپه ترڅ کې، استازي کولی شي رئیس ته د یو کس د رایي ورکولو د وړتیا په اړه اعتراض وړاندې کړي ( هیله ده د اضافي مالوماتو لپاره د ۱۳مې برخې ۳۲م مخ وګورئ).

## *د خبرې رسنیو د استازو رول*

د ټاکنو په اړه خلکو ته د مالوماتو په رسولو کې د خبرې رسنیو استازي د پام وړ رول لوبوي.

د خبرې رسنیو باورلیک لرونکي استازي یوازې هغه وخت د رایي ورکولوځای ته ننوتلی شي چې د رایي ورکولوپه بهیر کې خنډ نه ګرځي. دوی کولی شي د مر کز د مدیر یا د ځای د رئیس سره د رایي ورکولو د کارکوونکو د استازي په توګه د هغه/هغې په خوښه د رایي ورکولو د ځای څخه د باندې مرکه وکړي، خو که چېرې د رایي ورکولو د ځای د ننه فعالیتونه دې کارته اجازه ورکوي د خبرې رسنیو استازي نشي کولی د بهیر د داسې برخې څخه فلمبرداري یا کاپي واخلي چې شخصي مالومات افشا کوي.

د خبرې رسنیو استازي **اجازه لري** چې:

- د ټاکنو په ورځ د پرانېستلو له وخت څخه د رایي ورکولوپه ځای کې وي او د رایي ورکولو د بهیر ټول پړاوونه د رایو پاڼو د صندوقونو له مهر کولو څخه نیولې د فعالیتونو تر پای ته رسېدو پورې وڅاري، په دې شرط چې دوی د رایو محرمیت په خطر کې وا نه چوي.
- د رایي ورکولوپه ځای کې شا او خوا وګرځي، په دې شرط چې د رایه ورکوونکو د تګ او راتګ یا در ایي اچوني د کارکوونکو په کار کې لاس وهنه ونکړي او خنډ یې ونه ګرځي.
- <u>د رایي ورکولو د ځای څخه د باندې</u> د رئیس، راجستر شوي کس، رایه ورکوونکي، کتونکي، استازي یا ځانګړي میلمه سره مرکه وکړي، که چېرې نوموړی کس موافقه وکړي.
- د شپې له مخې د توکو د ساتنې او لېږدوني څخه کتنه وکړي.

د خبري رسنيو استازي **اجازه نلري** چې:

- د رايي ورکولوکارکوونکي، راجسټرشوي کس، رايه ورکوونکي، کتونکي، استازي يا ځانګړي ميلمه سره د رايې ورکولوپه ترڅ کې د رايي ورکولو د ځای د ننه مرکه وکړي؛
- د يو کس د خوښي پرته د هغه/هغې فملبرداري، عکاسي يا ورسره مرکه وکړي؛
- د رايه ورکوونکو څخه د رايي د ښه کولو په وخت کې فلم يا عکاسي واخلي، يا داسي عکسونه، ويديويي صحنه يا ويناوې په لاس راوړي چې د رايه ورکوونکي شخصي مالومات وي؛
- د رايه ورکوونکو دلست، د رايه ورکوونکو د نوم ليکني د کارتونو، او ياهم هر هغه سند کاپي واخلي چې د رايه ورکوونکو محرميت له خطر سره مخامخ کوي؛
- د رايې ورکولو په ځای کې د رايي اچوني د موادو سره لاس ووهي.

*د خبري رسنيو مرکې*

د مرکو په ترڅ کې، رئيس کولی شي عمومي پوښتنو ته ځواب ووايي، خو تعبيرات او نظريات بايد وړاندې نه کړي. تولې مرکې بايد د رايي ورکولوله ځای څخه د باندې ترسره شي. رئيس کولی شي چې پوښتنو ته ځواب ووايي:

- ✓ د رايي ورکولوکړنلارې
- ✓ د رايي ورکولوپه ځای کې د رايه ورکوونکو شمېر
- ✓ د رايي ورکولو د کارکوونکي په توګه څه دندې لري او کوم ډول روزنه يې ترلاسه کړې ده.
- ✓ د ټاکنو د کارکوونکو لپاره د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر کړندو د.

د رايي ورکولو د ځايونو رئيسان دي لاندې موضوعاتو ته د ورته موضوع په هکله خپل تعبير يا نظر نه وړاندې کوي:

- ✓ په ځايي، سيمه ييزه يا ملي کچه د پايلو ورکول
- ✓ د ټاکنو د احتمالي پايلو په هکله څرګندونې
- ✓ د کانديدانو، سياسي ګوندونو يا ولسي جرګې يا ولايتي شوراګانو د ټاکنو په اړه ويناوې کول
- ✓ د پاليسيو يا د پاليسيو د رعايت کولو په هکله نظريات يا د نورو مسايلو په هکله تصورات.
- ✓ د ګنګوسو په اړه څرګندونې.

د ننوتو اجازه**:**

د رايي ورکولوځای ته د ننوتو د اجازې ورکولو مسؤوليت د رئيس په غاړه دی. په يو وخت کې د رايي ورکولوپه ځای کې د کسانو د شمېر ټاکل د رئيس په واک کې دی.

په يو وخت کې د رايي ورکولوپه ځای کې د يو نهاد څخه له دوو څخه زياتو کتونکو، استازو يا د خبري رسنيو استازو ته اجازه نشته. که چېرې په يو وخت کې ډېر زيات کسان موجو د وي، او دا ګڼه ګونه د رايي ورکولوپر فعاليتونو اغېزه کوي، رئيس به يو دوريي مهال وېش جوړ کړي تر څو هر څوک د رايي ورکولوځای ته برابر لاس رسی پيدا کړي.

کله چې کتونکي، استازي، خبري رسنی او ځانګړي ميلمانه د رايي ورکولوځای ته راورسيږي، د ليکې کنټرولوونکی به دوی رئيس ته بوزي. دا د رئيس مسؤوليت دی چې د دوی د پېژندني نښان او عکس لرونکي تاييدوونکي پېژند پاڼي وګوري. رئيس نشي کولی چې دوی ته اجازه ورکړي که چېرې په نښان کې نوم د عکس لرونکي تائيدوونکي پېژندپاڼي سره يو شان نه وي.

له هغې وروسته رئيس بايد د رايي ورکولو په ژورنال کې د هغه کس نوم، د رايي ورکولوله ځای څخه د لېدني وخت او د نښان شمېره ثبت کړي.

## د پېژندنې نښانونه

دافغانستان د ۱۳۸۴ کال ټاکنې/ انتخابات افغانستان ۱۳۸۴
**Afghanistan Elections 2005**

دانتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر
دفتر مشترک تنظیم انتخابات
Joint Electoral Management Body

استازی
نماینده
**Agent**

ګوند یا کاندید / حزب یا کاندید :
------------------------------------------ : Party or Candidate

د استازي نوم / اسم نماینده :
------------------------------------------ : Name of Agent

دپېژندنې د نښان شمېره / شمارهٔ نشان مشخصه :
------------------------------------------ : Badge Number

---

دافغانستان د ۱۳۸۴ کال ټاکنې/ انتخابات افغانستان ۱۳۸۴
**Afghanistan Elections 2005**

دانتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر
دفتر مشترک تنظیم انتخابات
Joint Electoral Management Body

کورنی کتونکی
مشاهد داخلی
**Domestic Observer**

د موسسې نوم / اسم موسسه :
------------------------------------------ : Organisation

دکتونکي نوم / اسم مشاهد :
------------------------------------------ : Name of Observer

دپېژندنې د نښان شمېره / شمارهٔ نشان مشخصه :
------------------------------------------ : Badge Number

---

دافغانستان د ۱۳۸۴ کال ټاکنې/ انتخابات افغانستان ۱۳۸۴
**Afghanistan Elections 2005**

دانتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر
دفتر مشترک تنظیم انتخابات
Joint Electoral Management Body

نړیوال کتونکی
مشاهد بین المللی
**International Observer**

د موسسې نوم / اسم موسسه :
------------------------------------------ : Organisation

دکتونکي نوم / اسم مشاهد :
------------------------------------------ : Name of Observer

دپېژندنې د نښان شمېره / شمارهٔ نشان مشخصه :
------------------------------------------ : Badge Number

---

دافغانستان د ۱۳۸۴ کال ټاکنې/ انتخابات افغانستان ۱۳۸۴
**Afghanistan Elections 2005**

دانتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر
دفتر مشترک تنظیم انتخابات
Joint Electoral Management Body

ژباړن
ترجمان
**Interpreter**

د موسسې نوم / اسم موسسه :
------------------------------------------ : Organisation

د ژباړن نوم / اسم مترجم :
------------------------------------------ :Name of Interpreter

دپېژندنې د نښان شمېره / شمارهٔ نشان مشخصه :
------------------------------------------ : Badge Number

---

دافغانستان د ۱۳۸۴ کال ټاکنې/ انتخابات افغانستان ۱۳۸۴
**Afghanistan Elections 2005**

دانتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر
دفتر مشترک تنظیم انتخابات
Joint Electoral Management Body

خبري رسنۍ
رسانه های خبری
**Media**

دخبري رسنیو سازمان / سازمان رسانه های خبری :
------------------------------------------ : Media Organization

د خبري رسینو غړي نوم / اسم عضو رسانه های خبری
------------------------------------------ : Name of Media Member

دپېژندنې د نښان شمېره / شمارهٔ نشان مشخصه :
------------------------------------------ : Badge Number

---

دافغانستان د ۱۳۸۴ کال ټاکنې/ انتخابات افغانستان ۱۳۸۴
**Afghanistan Elections 2005**

دانتخاباتو د تنظیم ګډ دفتر
دفتر مشترک تنظیم انتخابات
Joint Electoral Management Body

خاص میلمه
مهمان خاص
**Special Guest**

دخاص میلمه کټګوري / کتګوری مهمان خاص
------------------------------------------ : Special Guest Category

نوم / اسم :
------------------------------------------ :Name

دپېژندنې د نښان شمېره / شمارهٔ نشان مشخصه :
------------------------------------------ : Badge Number


☐ مرستندویه پرسونل / پرسونل کمکی / Support Staff ☐ ساتونکو ته اړتیا / ضرورت به محافظین / Close Protection

---

مهمه یادونه: د پېژندنې دا نښان یوازې هغه وخت د اعتبار وړدی چې د تائیدوونکې عکس لرونکې پېژند پاڼې سره یو ځای وړاندې شي

تذکر مهم: این نشان مشخصه در صورتی مدار اعتبار میباشد که همراه با کارت هویت عکس دار تائید کننده ارائه گردد

**Important Reminder : This Badge is only valid when presented with supporting photo identification**







هر کس چې د ملګروملتونو د UNOPS، UNAMA، UNDP د پېژندنې کارت ولري، د رايي ورکولو مرکز او ځای ته د ننوتو اجازه لري.

## ٦. د رايي ورکولو د ځای اداره

### دمه او د غرمې ډوډۍ

د رايي ورکولوځايونه به د غرمې د ډوډۍ په وخت کې هم خپل کارت ته ادامه ورکوي. د رايي ورکولوکارکوونکي کولای شي په خپل وار سره نيم ساعت د غرمې ډوډۍ او ١٠-١٥ دقيقې د لمانځه لپاره له کار څخه دمه وکړي. د رايي ورکولو د ځای رئيس به د دې کار لپاره مهال ويش ټاکي، څو په هر وخت کې لږ تر لږه د رايي اچونې څلور کارکونکي حاضر وي. که رئيس د رايي ورکولوله ځای څخه په هر دليل وځي، بايد يو مرستيال وټاکي څو د ده په نشتوالي کې د رئيس په توګه کار وکړي.

### د امنيت باوري کول

هر مرکز ته به په مناسبه کچه امنيتي تدابير ونيول شي. د امنيتي کارکوونکو رول د رايي ورکولو د کارکوونکو، د رايي ورکولو د توکو او د رايه ورکوونکو د امنيت ساتنې په ګډون د ټاکنو د پروسې لپاره خوندي چاپيريال ساتل دي.

رئيس او د مرکز مديرد رايي ورکولو په ځای او مرکز کې د نظم ساتنې مسؤوليت په غاړه لري. تر هغې چې په بيړنې حالت کې د دوی شتون ته اړتيا پېښه نشي، امنيتي کارکوونکي به د مرکز څخه د باندې ولاړ وي. امنيتي کارکوونکي د رايي ورکولومرکز يا ځای ته ننوتلی شي که چيرې د مرکز د مدير يا د ځای د رئيس لخوا را وبلل شي. دوی به د حالاتو د کنترول راوستو وروسته ژر تر ژره د مرکز څخه وځي.

امنيتي کارکوونکي به د رايي ورکولو د مرکز د باندې نظم ساتي، د غوښتنې په وخت د مرکز په داخل کې حالت کنټرولوي او د رئيس په غوښتنه هغه کس د رايي ورکولو له ځای څخه باسي چې ويرونکی يا تيری کوونکی سلوک کوي يا د رئيس د لارښوونو په رعايت کولو کې پاتې راځي. امنيتي کارکوونکي به همدارنګه د ننوتلو مهمو لارو کې د رايه ورکوونکو د تلاشي مسؤوليت ولري تر څو د ټول بهير په اوږدو کې خوندي چاپېريال وساتل شي.

د ګډوډۍ، بيړنيو حالاتو يا پېښو په صورت کې، رئيس مسؤوليت لري چې په لومړي موقع کې د مرکز مدير ته خبر ورکړي. خو، لومړی واک د امنيتي کارکوونکو دی چې د امنيتي مسئلو په اړه پرېکړې وکړي.

<u>امنيتي کارکوونکي بايد په هيڅ صورت د رايي ورکولو په بهير کې لاس وهنه او د نفوذ هڅه ونه کړي.</u>

### د رايي ورکولوځنډول

د رايي ورکولو د مرکز مدير د رايي ورکولو د ځای يا مرکز د ننه د رايي ورکولو د ځنډونې امر ورکولی شي که چېرې د بلوا، تاوتريخوالي، توپان، سيلاب يا د کومې بلې داسې پېښې ګواښ وشي چې رايه اچول ناشونې کوي. يوازې د رايي ورکولو د مرکز مدير د رايي ورکولو د ځنډولو امر د رايي ورکولو د مرکز په يوې برخې يا په ټول مرکز کې ورکولی شي.

که چېرې رايه اچونه وځنډول شي، د مرکز مدير بايد د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء له ولايتي دفتر سره په لومړي موقع کې تماس ونيسي. د مرکز مدير به د رايي ورکولو د مرکز او ځای کارکوونکي له پرېکړو څخه خبروي.

د رايي ورکولو د ځای رئيس بايد همداشان هڅه وکړي چې د رايي ورکولو د توکو ساتنه وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې هغه کسان چې له پراوونو تيرېږي، د رايي ورکولوله ځای څخه وزي. د اړتيا له مخې د رايي ورکولو د مرکز مدير به د رايي ورکولو د ځای رئيس ته د نورو کارونو په اړه خبر ورکړي.

د رايي ورکولو د ځنډونې په صورت کې به رئيس کله چې امکان ولري لاندې ګامونه پورته کوي:


- د رايي ورکولوځای بندوي او له هر چا، د رايي ورکولوله کارکوونکو پرته، غوښتنه کوي چې له دې ځايه ووځي.
- که چېرې وخت اجازه ورکوله، د بندولو عادي کړنلارې تعقيبوي.
- د رايي ورکولو د ځای په ژورنال کې د وختي بندېدو وخت او دلايل ليکي.
- که چېرې ورته وويل شي، د رايي ورکولوتوکي د لېږدونې لپاره تړي.

## ۷. د رايي ورکولو توکي

د مرکز مدير به د رايي ورکولو د پيل څخه مخکي د انتخاباتو د تنظيم د ګډ دفتر د دارالانشاء له کارکوونکو څخه د رايي ورکولولپاره ټول اړين توکي ترلاسه کړي.

- د ولسي جرګي او ولايتي شورا د ټاکنو لپاره رايي پاڼي
  - *د ولسي جرګي رايي پاڼي اسماني رنګ لري*. (د کوچيانو لپاره د ولسي جرګي پاڼي په بانجاني ډوله کرښه کي را چاپيره شوي اسماني رنګ لري.)
  - د ولايتي شورا رايي پاڼي ژېړ رنګ لري.

رايي پاڼي به د سل پانېزو بنډلونو په ډول راورسيږي. د رايي ورکولوځاى به د ٦٠٠ يا ٨٠٠ رايه ورکوونکو لپاره رايي پاڼي ترلاسه کړي چي د رايي ورکولوټولو ځايونو لپاره دا کافي مقدار دی.



## غیر حساس توکی:

١ -د رایو صندقونه
٢ -د رايي په نښه کولو د غرفو پردې
٣ -د رایه ورکوونکو د نوم لیکني د کارت د سوري کولو آله
٤ -د رایو پاڼو د په نښه کولو قلمونه
٥ -مهرونه
٦ -د ټاکنو د فعالیتونو د ترسره کولو لپاره علامې او لیبلونه (نښې)
٧ -قرطاسيه

## *حساس توکي*

لاندې حساس توکي دي او باید تل یې ساتنه وشي
١-د رای ورکونې د ګذارش-P01فورمه( تر بشپړولو وروسته)
٢-د رای ورکونی د کار- P02فورمه( تر بشپړولو وروسته)
٣-د رایه ورکوونکود لست P03فورمه (د استعمال څخه وروسته)
٤-د رايي ورکولو د ځای ژورنال (د استعمال څخه وروسته)
٥-رايي پاڼي ( خالي، بېکاره، ضايع شوې او استعمال شوې)
٦-د ګوتې د نښه کولو رنګ
٧-د رایو پاڼو تصدیق کوونکي ټاپه
٨- د نوم لیکنی باطل شوی کارتونه
٩ -د شکا یا تو د ECC01 فورمه( تر بشپړولو وروسته).


## ***د رایه اچونې د بهیر فورمې***

| فورمه | کله کارول کېږي | تشریح |
|---|---|---|
| د رایه اچونې د راپور (P01) فورمه | د رایه اچونې د پای ته رسېدو وروسته د مرکز د مدیر په واسطه | په (P02) فورمه کې د راجع شوو جزئیاتو وروستی کتنه. د دواړو د مرکز د مدیر او د ځای د رئیس له خوا لاسلیک کېږي. |
| د رایه اچونې (P02) کاري پاڼه د فورمو کتابګی | د رايي ورکولو د ځای د رئیس له خوا د رایه اچونې څخه مخکې او وروسته | د ترلاسه شوو، نا کارولو شوو، ضایع شوو او بې کاره شوو رایو پاڼو، د رایه ورکوونکو په لست کې د درج شوو کسانو د شمې، د کارول شوو مهرونو د شمېرو؛ او نورو مهمو کتنو د ریکارډ د ساتلو لپاره کارول کېږي. |
| د رایه ورکوونکو لست (P03) د فورمو کتتابګی | د پېژندنې او ګوتې رنګولو مامور له خوا د رایې ورکولو په مهال | د هغو رایه ورکوونکو د نوم لیکنې د کارتونو د پرلپسې ګڼو لست چې د رایي ورکولو په ځای کې له پړاوونو تیرېږي. |

## *تیاری او د رایي ورکولو د ځای د ژورنال کارول*

د رايي ورکولو د ځای رئیس به د رایي ورکولو یو ژورنال ولري. رئیس ته پکار ده چې د رايي ورکولو د ژورنال مخکې چاپ شوی لېبل (نښه) چې د رايي ورکولو د ځای کوډ پرې لیکل شوی وي، په ژورنال ونښلوي. د رایي ورکولو د ځای کوډ باید کټ مټ د هغه کوډ په ډول کاپي شي چې د توکو په بکس باندې ښکاره کېږي. ژورنال به د لاندې کارونو د ثبت لپاره وکارول شي:

- د رايي ورکولو د ځای د پرانیستلو او بندولو وختونه
- د رایه ورکوونکو د ورتیا په وړاندې د استازو لخوا راپورته شوې اعتراضونه
- اعتراضونو پورې د اړوندو مرکو مالومات
- د رای اچونی د ځای احصایه
- د کتونکو، استازو، د خبري رسنیو او ځانګړو میلمنو شتون
- د معیوبو رایه ورکوونکو سره د مرستندویو کسانو شتون
- ټولې بېړنی پېښې
- د یادونې وړ نورې پېښې چې د رایي ورکولو د ځای په فعالیتونو باندې اغیزه ولري.





## ۸. مخکې له دې چې رایه اچونه پیل شي

د رایه اچونې ټول کارکوونکي باید د ټاکنو په ورځ، د رایې ورکولو ځای ته تر ۶:۰۰ بجو راورسیږي.رایه اچونه باید په ۷:۰۰ بجو پیل شي. کارکوونکي باید ځان ته کافي وخت پرېږدي څو د اوو بجو څخه واړندې ټولې تیارۍ تر سره کړي.

رئیس به د مرکز د مدیر څخه د رایه پاڼو صندوقونه او د رایې ورکولو د ځای د توکو بکس د رایې اچونې له پیل څخه وړاندې ۲٤ ساعتونو کې ترلاسه کړي .


**د رایې ورکولو د ځای کوډ**
د رایې ورکولو ځای ته به دتوکو بکس د لیبل سره ورسپارل کېږي چې په لیبل کې به د رایه اچونې د ځای کوډ په ګوته شوی وي. رئیس باید د رایو پاڼو صندوقونه، د ځای ژورنال، هغه پاکټونه چې ضایع شوې او بېکاره شوې رایې پاڼې په کې اچول کېږي، هغه پاکټونه چې که ضروري وي د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې باطل شوي کارتونه په کې اچول کېږي او د رایې ورکولو فورمې کټ مټ د رایې ورکولو د ځای په هغه کوډ په نښه کړي چې د توکو په بکس باندې ښکاره کېږي.



د لوازمو بکس
صندوق لوازم
Materials Box
١٢/٣۴/۵۶٧/٠٢
١٢/٣۴/۵۶٧/٠٢
د ځای ژورنال
ژورنال محل
Station Journal
ولايتي شورا / شورای ولایتی
Provincial Council
ولسي جرگه / ولسی جرگه
Wolesi Jirga

### ۱ . تیم د رایې ورکولو ځای برابروي:

- د رایې ورکولو کارکوونکي باید د رایې ورکولو د ځای نخشه داسې برابره کړي  چې ډاډ ترلاسه کړي:
  - د رایه ورکوونکو د منظم بهیر لپاره ټول فرنیچر (میز، څوکۍ) او نور توکي په منظم ډول برابر دي.
  - ټول مخکې چاپ شوي او په لاس لیکل شوې نښې په خپلو ځایونو کې لګول شوې
  - د رایه پاڼو د نښه کولو لپاره غرفې په داسې ځای کې اېښودل شوې چې د رایه ورکوونکو د محرمیت تضمین کوي.
  - د رایه پاڼو قلم د رایې د په نښه کولو غرفه کې اېښودل شوی او په تار باندې داسې تړل شوی چې خلاصېدای نشي.
  - د هرې ټاکنې لپاره د رایه پاڼو یو صندوق د کوټې په منځ کې د میزونو څخه لرې په داسې ډول اېښودل شوی چې ټولو حاضرو کسانو ته د لیدو وړ وي.
  - د پېژندنې او ګوتې رنګولو مامور او د رایه پاڼو وېشونکي لپاره میزونه موجود دي



### ۲ .    رئیس توکي ګوري او ویشي یې

- رئیس ټول توکي او لوازم د رای ورکونی د بکس د توکود لست سره ګوري( څلورم مل ٤٢ مخ وګورئ) تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې ټول توکي شته او د کمیو په هکله د رایې ورکولو د مرکز مدیر ته راپور ورکوي.


### ۳ .     تیم کړنلارو ته نوې کتنه کوي

- د رایې ورکولو په ځای کې رئیس د رایې ورکولو د کارکوونکو پام خپلو مسؤولیتونو ته اړوي او د کړنلارو په اړه په هر ډول پوښتنو رڼا اچوي.
- رئیس د ټاکنو کارکوونکو ته د انتخاباتو د تنظیم د ګډ دفتر کړندود مهم ټکي تکراروي.

## ٤. د رایه پانو صندوق مهر او لاک کیږي

د رایه اچوني د پیل څخه لږ مخکې

- کتونکي، استازي، خبري رسنۍ او ځانګړي میلمانه که چیرې حاضر وي، د رایې ورکولو ځای ته رابلل کیږي.
- رئیس د رایه پانو صندوقونه کتونکو، استازو، خبري رسنیو او ځانګړو میلمنو ته ښیي.
- رئیس څلور مهراو لاکونه د رای پانو د صندوق څلورو خواوو کې لګوي (په XX مل کې انځور وګورئ) او د مهر او لاکونو شمېرې د رایې اچوني د کاري پاڼې په (P02) فورمه کې ثبتوي.



د رایه اچوني د کاري پاڼې (P02) پیلول

رئیس د رایې اچوني د پیل کېدو څخه وړاندې د رایه اچوني د کاري پاڼې (P02) په ډکولو پیل کوي.

- ← په ټاکلې تش ځای (۱ شمېره) کې د رایې ورکولو د ځای کوډ داخل کړئ. په یاد ولرئ چې د رایې ورکولو د ځای کوډ باید کټ مټ د توکو د بکس د کوډ په څیر وي.
- ← د نارینه/ښځینه/کوچیانو اړونده مناسبه خانه په نښه کوي (دویمه پوښتنه).
- ← د رایې ورکولو د ځای د ولایت نوم لیکي (۳ نمبر)
- ← د رایې ورکولو د ځای د ولسوالۍ نوم لیکي (٤ نمبر)
- ← د رایې ورکولو ځای ته د ولایتي شورا د ټاکنو د رسېدلیو پاڼو شمېر لیکي ( ۵م نمبر، ژېړ ستون)
- ← د رایې ورکولو ځای ته د ولسي جرګې د ټاکنو د رسېدلیو پاڼو شمېر لیکي ( ۵م نمبر، اسماني ستون)
- ← د ولایتي شورا د رایو پاڼو د صندوق د اړخونود مهرونو شمېرې لیکي (۱۰م نمبر، ژېړ ستون)
- ← د ولسي جرګې د رایو پاڼو د صندوق د اړخونو د مهرونو شمېرې لیکي (۱۰م نبر، اسماني ستون)

یادونه: که د ورځې په وروستیو کې د رایې ورکولو ځای اضافي رایې پاڼې تر لاسه کړي او یا رایې پاڼې د رایې ورکولو بل ځای ته ولېږل شي، رئیس به یې د ځای په ژورنال او د رایه اچوني د کاري پاڼې (P02) د یادونو په برخه (۱۲ نمبر) کې یاداشت کوي.

د ۱۳۸٤ کال د ولسي جرګي او ولایتي شورا ټاکني
انتخابات ولسی جرگه و شورا های ولایتی سال ۱۳۸٤
د رایې اچوني د ځای د کاري پاڼې P02 فورمه
فورمه P02 – ورق اجرائات محل رای گیری
**Polling Worksheet – Form P02**

**۱. د رایې اچوني د ځای کوډ**
**کود محل رای گیری**
1. Polling Station Code

۱ ۲ / ۳ ٤ / ۵ ٦ ۷ / ۰ ۲

2. /۲
نارینه/مذکر / Male ☐
ښځینه/مونث / Female ☑
کوچي/کوچی / Kuchi ☐

**۳. د ولایت نوم**
**نام ولایت**
3. Province Name
کندهار

**٤. د ولسوالی نوم**
**نام ولسوالی**
4. District Name
دامن

| ولسي جرګه / ولسی جرگه<br>Wolesi Jirga | ولایتي شورا / شورای ولایتی<br>Provincial Council | |
|---|---|---|
| ۸۰۰ | ۸۰۰ | ۵. د ترلاسه شویو رای پانو شمیر/ تعداد اوراق رایدهی دریافت شده<br>5. Number of ballots received |
| | | ٦. د نااستفاده شویو رای پانو شمیر / تعداد اوراق رایدهی استفاده ناشده<br>6. Number of unused ballots |
| | | ۷. دضایع شویو رای پانو شمیر / تعداد اوراق رایدهی ضایع شده<br>7. Number of spoiled ballots |
| | | ۸. د ایسته شویو رای پانو شمیر / تعداد اوراق رای دهی دورانداخته شده<br>8. Number of discarded ballots |

۹. د رایه اچوونکو د لست څخه د ثبت شویو کارتونو شمیر / تعداد کارت های درج شده ازلست رای دهندگان
9.Number of entries on the List of Voters

۱۰. د رای پانود صندوق د **څنګ** او **سر** د مهر شمیرې
شماره های مهر قسمت **فوقانی** و **جانبی** صندوق رایدهی
10. Ballot Box **side** and **top** Seal Numbers

| Wolesi Jirga | | Provincial Council | | |
|---|---|---|---|---|
| 123456 | 123458 | 345601 | 345603 | صندوق۱ صندوق۱ Box1 |
| 123457 | 123459 | 345602 | 345604 | |
| | | | | |
| | | | | صندوق۲ صندوق۲ Box2 |
| | | | | |
| | | | | |
| | | | | صندوق۳ صندوق۳ Box3 |
| | | | | |
| | | | | |



۱۱. د توکو د صندوق د مهر شمیرې
شماره های مهرصندوق لوازم
11. Materials Box Seal Numbers



۱۲. کتنې/ ملاحظات / 12. Remarks

۱۳. د رایې اچوني د ځای د رئیس نوم او لاسلیک / اسم وامضای رئیس محل رای گیری
13. Name and signature of Polling Station Chairperson

### د رايي اچونې پيلول

د رايي ورکولو ځای به په ۷:۰۰ بجو پرانېستل شي. د رايي ورکولو د ځای پرانېستلو لپاره د رئيس په ګډون بايد لږترلږه د رايي ورکولو څلور کارکوونکي حاضر وي. که چېرې د رئيس په ګډون د رايي ورکولو څلور کارکوونکي موجود نه وي، د رايي ورکولو د مرکز مدير ته بايد خبر ورکړ شي.

کله چې د رايي ورکولو ځای پرانېستل شي:

- د رايه اچوني په ژورنال کې به د پرانېستلو وخت ثبت شي.
- خلک به له دروازې څخه د باندې په کتار کې انتظار باسي او د رايي ورکولو په شرايطو برابر د رايي اچوني کارکوونکي به دا موقع ولري چې رايه ورکړي او ورسپارل شوو دندو ته بيرته وګرځي.
- له دې وروسته د باندې ولاړ کسان په خپل وار سره کولای شي د رايي ورکولو ځای ته ننوزي.

## ۹. د رايې ورکولو اووه پړاوونه

### لومړی پړاو: د کتار کنټرولول

#### د کتار کنټرولوونکی:

⇐ د رايي ورکولو د ځای په وره کې ودرېږي او رايه اچوونکي په منظم کتار کې ساتي.



⇐ ډاډ ترلاسه کوي چې په کتار کې ولاړ کسان د امکان تر حده آسوده دي.

⇐ که چېرې معيوبين، زاړه او يا اميندوارې ښځې کتار کې ودرېږي، د نورو رايه ورکوونکو څخه په مؤدبانه ډول غوښتنه کوي چې هغوی ته اجازه ورکړي چې د کتار مخې ته راشي.

⇐ سلام اچوي او ګوري چې هر راجستر شوی کس د رايي ورکولو ځای ته د ننوتو دوه معيارونه پوره کړي:

۱) ډاډ ترلاسه کوي چې د نوم ليکنې د اعتبار وړ کارت لري. که چېرې د نوموړي کس څخه کارت هېر شوی وي، بيرته ځي او راوړي يې. پرته د نوم ليکنې له کارت څخه رايه ورکوونکي ته د رايي ورکولو ځای ته د ننوتو اجازه نشته.

۲) ګوته يې رنګ شوې نه وي. که چېرېد رای ورکوونکی ګوته رنګ شوې وي نوبايد ورته و ويل شي چې د رايي ورکولو ځای ته نشي ننوتلی، که چېرې هغه د يو معيوب رايه ورکوونکي سره مرسته نه کوي.

**رایه ورکوونکو سره د مرستې په هکله یادونه**

معیوب یا ړانده رایه ورکوونکو ته چې د مرستې اړتیا لري، اجازه شته چې یو ملګری یې مرسته وکړي. بله چاره یې داده چې له رئیس څخه هم په هدې کار کې مرسته غوښتلی شئ. له رئیس څخه پرته هیڅوک نشي کولی چې له دوو څخه زیاتو رایه ورکوونکو سره مرسته وکړي.

- ⇐ د رایې ورکولو ځای ته یو یو کس ته اجازه ورکوي او د کسانو بهیر کنټرولوي چې د زیاتې ګڼې ګوڼې مخنیوی وشي.
- ⇐ د اړتیا په وخت کې رئیس د کتار کنټرولوونکي سره مرسته کوي چې د ننوتلو مخنیوی وکړي.
- ⇐

## *کتونکو، استازو، خبري رسنیو او ځانګړو میلمنو ته د ننوتلو اجازه*

د کتونکو، استازو، خبري رسنیو او ځانګړو میلمنو په برخه کې، رئیس مسؤولیت لري چې:

- o د هغه/هغې د باورلیک نښان وګوري.
- o د هغه/هغې عکس لرونکی تاییدوونکي پېژندپانه وګوري تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې د هغه نوم سره برابر دی چې د پېژندنې په نښان کې لیکل شوی.

## *دویم پړاو: د هویت پېژندنه*



د هویت پېژندنې او ګوتې رنګولو مامور:

- ⇐ *د نوم لیکنې کارت ګوري چې دا یقیني کړي چې عکس د همدې کس دی.*

- ⇐ *د نوم لیکنې کارت ګوري چې ډاډ ترلاسه کړي چې نوموړی کس په سم ولایت کې رایه ورکوي. که چېرې د ولایت نوم سم نه وي، بیا به هغه/هغې ته لارښوونه وکړي چې یوازې په هغه ولایت کې رایه ورکولی شي چې د نوم لیکنې په کارت کې یې نوم لیکل شوی وي.*

**د پام وړ یادونه – د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې د کارت کتل**


- ✓ کوچیان چې د کوچیانو په ټاکنیزه حوزه کې رایه ورکوي باید کارت کې یې کوچیتوب په نښه شوی وي.
- ✓ کوچې رای ورکوونکې یوازې د کوچیانو لپاره د بیل شوو درای اچونې په ځایونو کې رایه ور کولای شی.که چېرې کوم کوچې د رایې ورکولو په ناسم ځای کې وي،لارښوونه ورته کېږي چې د کوچیانو د رایې ورکولو نږدې ځای ته لاړ شي.

<u>**ښځې**</u>

- ✓ د ځینو ښځو د نوم لیکنې کارتونه به عکسونه ونلري خو د عکس په ځای کې به "غوښتونکی د عکس اخېستلو څخه ډډه کوي" لیکل شوي وي.

- *د نوم لیکنې کارت ګوري تر څو ډاډه شي چې د کینې خوا ښکته ګوټ یې پخوا سوری شوی نه وي.*
- *د راجستر شوي کس ګوتې د رنګ لپاره ګوري.*

### دریم پړاو: د ګوتې رنګول



د هویت پیژندنې او ګوتې رنګولو مامور:

- د راجستر شوي کس د شهادت ښې ګوته په کاغذ پاکوي:
  - که چیرې راجستر شوی کس د شهادت ګوته ونلري، د همدغه لاس بله ګوته یې پاکوي.
  - که چیرې راجسترشوی کس ښی لاس ونلري، دهویت پیژندنې او ګوتې رنګولو مامور یې د بل لاس ګوته په نښه کوي.
  - که چیرې راجسترشوی کس د لاس رنګولو څخه ډډه کوي، د پیژندنې او ګوتې رنګولو مامور باید ورته په ډاګه کړي چې هیڅوک د ګوتې رنګولو پرته رایه نشي ورکولی. که چیرې رایه ورکوونکی بیا هم ډډه کوي، هغه/هغې ته د رایه ورکولو اجازه نه ورکول کیږي او د رئیس لخوا د رایه اچونې د ځای څخه ایستل کیږي.
- د رایه ورکوونکي ګوته د رنګ په بوتل کې د ننه کوي. رنګ باید د ګوتې ټول نوک تر بند پورې ونیسي.
- رایه ورکوونکی باید رنګ د ۳۰ ثانیو لپاره پریږدي چې وچ شي.

